# الفاتحة

مکی سورة دی ۷ آیتونه لری

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿١﴾

په نامه د الله چې ډیر زیات مهربان او پوره رحم کوونکی ذات دی.

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٢﴾

ټولې ستاينې ( او غوره صفات) د الله تعالی لپاره ځانګړی دی، هغه ذات چې د ټولو مخلوقاتو( او کائناتو) پالونکی دی.

ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٣﴾

ډیر زیات مهربان او پوره رحم کوونکی دی.

مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴿٤﴾

د مکافات او مجازات( حساب کتاب) د ورځې مالک ( ټولواک) دی.

إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ﴿٥﴾

( ای ربه!) مونږ یوازې ستا عبادت کوو او (مافوق الاسباب) مرسته یوازې ستا له حضوره غواړو.

ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ﴿٦﴾

مونږ ته سمه لار راوښایه( او وربانديې مو روان او ثابت قدم وساته).

صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا

ٱلضَّآلِّينَ ﴿٧﴾

د هغو( پیغمبرانو، صدیقینو،شهداو او صالحینو) لار چې تا په خپل نعمت نازولی، نه د رټل شویو( یهودو لار) او نه د ګمراه شویو (عیسویانو لار).

==================